


د مولانا سعيد افغاني : آزاده ، تولنيزه ،علمي ، فرهنگي او نشراتي ارگان ته ښه راغلاست!



# عبدالحفیظ « ملیار ـ ساپی »

د نشرنیته : 9 سپتامبر 2024 میلادی

# د زړه زخم!

د دې عصر د ښامار سره مو جنګ دی
سترِی نه یوو داغیار سره مو جنګ دی

د وطن د پرمختګ دلار رندان یوو
نشه نه یوو د خمار سره مو جنګ دی

لباسي پتنګان هر طرف ښکارېږي
د رنګونو د بازار سره مو جنګ دی

ان الحق وا یي منصور غوندې په دار شي
د اغزن، اغزني لار سره مو جنګ دی

هر غزل یي دزړه زخم را تازه کړي
د شاعر حفیظ « ملیار» سره مو جنګ دی

***

عبدالحفیظ « ملیار »

بازگشت به صفحه اصلی - www.said-afghani.org